**لیکونکی** : بینوی کمپمارک ( Binoy Kampmark ).
**منبع اود خپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «2019-02-07»
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

----------------------------------------------------------------

# د مسکو کی غونډه : دطالبانو لید نه دافغان داپوزیسیون سره

*Meeting in Moscow: The Taliban Meets the Afghan Opposition*



دا غونډه یو نما یشی لوبه وه چي په هغه کي اصلی لوبغا ړی نه تر سترګو کیده دوی یعنی طا لبا نو ونګیرل چی هغوی ته دا غونډه ډیر ستونزمن دي کوم چی دهغوی پریکړي اجرایوی بڼه ولری، طا لبا نو غوښتل چی دخپل مخا لفینو سره خبری وکړي مګر دوی د ا پوزیسیون سیا ستوا لو سره کوم چی داشرف «غنی» د دولت تر رهبری لاندی سرګردان او لاره ورک خلک دی مخامخ کیږی د دغی غونډی ټولو موضوعات او مسا یل کوم چی د مسکو دپریزید نت په هوټل کی ترسره شوی د نیویا رک ټا یمز دکا ریپوها نو له خوا ارزونه وشو اوهغوی پخپل ارزونه کی دا سی ویلی دی چی دا غونډه په یو ډ یر ښه حا لت کی ممکن چي یود (فکری توفان ) غونډه اوسی .

د طا لبا نو د چارواکو سفر مسکو ته بل مختلف عمله وفعله (چوپړ) چی هغوی باید کم ترکمه دیونظرخاوندان وای ضرورت وه دوی د کا ل(1996) دورځنی سا لم اند یښنو په زړه پوری ځوانان نه دی کوم چی په کندها رکی د موټرونوپه دننه کی دموسیقی د مستو

کسیتونو په اوریدو سره دمینی حرکات ترسره کول او دموسیقی اودښځو په اړین په لوړ اواز سره یا وه سرایی کولی .دوی دیپلو ماتیک نارینه دی ، خپل ټوپکونه غلاف کړی دی او ددوی په نظر داسی راځی چی دوی ټول ا فغا نستا ن ترخپل ولکی لاندی لری یا به ترخپل تصرف لاندی راولی او بیا په ا فغا نستا ن کی یو پراخ بنسټ افراطی تیوکراتیک (دینی یا مذهبی) دولت را مینځته کړي – ا ما ددوی دکړنو په نظر کی نیولو سره آیا د ا سی کیدای شی چی دهغوی دا غوښتنی دعمل جامه واغوندی ؟ یا چی په ا فغا نستا ن کی یو منظم سوله ایز دولت را مینځته شی البته چی نه ! د لته به یولړ ډیر سوالونه رامینځته شی اوهغه داچي آ یا دوی نه غواړی چی د بشر د حقونو دپراخ مفهوم په اړه خپل موضع او نظر ته بد لون ورکړی ؟

په دی غونډه کي د طا لبا نودغوښتنو او له ادعا ګا نوڅخه داسی معلومیده چی دهغوی جسا رت« زړه ور توب» یا خیره سری لا تراوسه دوام لری ، دښمان راغلی اوتللی دی مګر دوی دخپلو کړنود نظم په سا تلو کی ثا بت قدم پا تی شوی دي اوهغه داچی دهغوی دوحشګیری (بی رحمی) لمن لا همغسی دپراخیدو په لورپه غوړیدو دي اما هغوی په عین حال کی ډیر سرسخت اوپه اصطلاح سره کله شخ خلک دي .

**شیرمحمد «استانکزي»** دطا لبانو له اړخه دخبرو اترو مشر پخپل وینا کی کوم چی د مسکو د پریزیدنت دهوټل په غونډه کی کوله یاده کړ او وویل( **سوله دجنګ په پرتله ډ یره سخته دی** ) .

د جنوری د میا شتی هغه مسوده چی دا فغا نستا ن د مخا لفو غا ړو د پخلاینی لپاره دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا دافغانستان دموجوده کشا لی د حل دلاری د میند لو لپاره ځانګړی استازی ځلمی «خلیلزاد» له طرفه د تصویب دپاره وړاندی شوه داسی راښیی چی دامریکی متحده ایالات پخپل وارسره ژمنه کوی چی له افغانستان څخه خپل قوتونه په دی شرط سره خارجوی چي طالبانو هم ژمن شی چی وروسته له دی به دخپل جهادی فعالیتونو دتر سره کولو دپاره دافغانستان خاوره دبل هیڅ یوهیواد پر ضد نه کاروي .

د چها ر شنبی ورځی دغونډی دوینا اودخبرو اترو په روند کي یوڅه په تفصیل سره دهرډول بالقوی معاملی په اړه خبری اتری ترسره شو چي په هغه کي (نه ) اسا سی ټکوته ځای ورکړی وه چی دهغه له جملی څخه مهم ټکي دا وه : دخبرو دوام دافغانستان په دننه کي - معمولی مذاکرا ت دمذاکراتو په مورد کي - د سیمی او د نورو هیوادونو مشا رکت دثا بت سولی دراوستلو په اړین د ا فغا نستا ن په سرتا سر کي .

**په افغانستان کی سوله : د طا لبا نو سفر مسکو ته ، هغوی ته داچا نس په برخه کړ چی هغوی په متعهد یا فصلی دیپلوما تونو بدل کړي** .اودهمدی سفر په ضمن کی یوه بله غوښتنه هم روښانه شواومونږ ټول په دي پوه شو چي په ټولنه کی ټول شیان دتروریستي ضربی ( ترو ماتیک) د تقسیما تو په مورد کی چی د ټولنی په دننه اوبهر کی ځوان نسل ته د پوهی دزغم وړ بد لون ورپه برخه کړی هغه داچي دخلکو ترمینځ ددی پورتني

طا لبی پا لیسی په لرلوسره وحد ت ناممکن دی اودمرکزی دولت رامینځته کول نا شونی ښکا ری اویا چی د دولت اجرا ت بی له یوخوب او خیا ل به بل شی ونه اوسی .
ددی غونډی ټولو خواوی پریکړه وکړل چی د راتلونکی سیستم یا د نظا م په ټولو برخو کی داسلام د دین ټولو اصولو اودهغه د ارزښتونو ته په درنا وی اوپه پا م کي نیولو سره په یوه مشترک واحد کور کی چي هغه ا فغا نستا ن دی سره اړخ په اړخ ژوند کوي اود یو مقتد رمرکزی حکومت په جوړولو اورامینځته کولوکی چی په هغه کی ټول قومونه بی له کوم توپیر څخه خپل جوړونکی نقش ولوبوی ملاتړ وکړل یعنی هغسی نقش چی ټولو د ملی حاکمیت په سا تنه ، دټولنیز عدا لت په وده دمنطقوی اودبین المللی شخړواومنازعا تو کی دا فغا نستا ن بشپړ دبی طرفی پا لیسی ، دافغانستان دملی اومذهبی ارزښتونو څخه سا تنه اودیو واحد سیا ست څخه پیروی کول دي .
یوبله موضوع چی دلمړی ځل دپاره ورباند پریکړه شو چی باید په جدی توګه سره تعقیب شی هغه دبهرنیو ځواکونو اودنظامی قوتونو وتل دافغانستان له خاوری څخه دي دا فغا نستا ن حا کمیت اوتما میت ارضی ته درنا وی اود نه مداخلی اصول رعایت کول اوهمداراز ژمنه وشو چی دا فغا نی اصولو سره سم د افغا نی میرمنو له ټولنیز ، اقتصا دی ، سیا سیی او تعلیمی حقونو څخه سا تنه اودفاع اوهم دهغه په اړخ کی دټولو خلکو د سیا سیی اودټولنیز حقوقو څخه سا تنه دبیان آزادی داسلام داصولو په چوکاټ کی ساتنه اودهغه څخه پلوی کول .

دجمهورریس اشرف «غني» ویاند **صمیم عارف** په دې غونډه کې خپل احساسات داسی څرګند کړل.

***"د سولې پروسې په اړه، موږ د سیا ستوالو په شمول د ټولنې د ټولو برخو نظرونو ته درنا وی کوو. مګر د سولې د پروسې ملکیت او مشرتا به د افغان حکومت واک دی.»***

***غني په ډیر تندی او بلواګری سره وویل :*** "د چا سره، دوی به هلته څه شی ومني؟ د دوی اجرائیه ځواک چیرته دی؟ اجازه راکړئ چې په سلګونو داسې غونډې ترسره شي، مګر دا به یوازې کاغذونه (تړونونه) وي مګر تر هغه چې د افغا ن حکومت موافقه نه وي؛ د افغانستا ن ملي شورا ا و د ا فغا نستا ن حقوقي بنسټونه. "
ممکن دی چی « اشرف غنی» دا فغا نستا ن جمهور ریس دهمغه ورته سوالونو په شان له خپله پوښتنه وکړی اوهغه داچی هغه خپل نقش یا حا کمیت دیو کاغذ پر اسا س لوبوی کوم چی دهغه په ادعا سره داجرایوی واکمنی یوه غوره اجرایوی لاربنود دي.
د مسکو په غونډه کی دګڼ فعالیتونو اودرغنده پریکړو په سرته رسول سره سره په دی کی شک اویا ترد ید نشته کوم چي ډیرو افغا نا نود بهرنیو قوتونومد ا خلی دطا لبا نو دحکومت په تایید اویا دهغه دمشروعیت په څرنګیوالی باندی کره معلومات ونه لری اما په هرصورت دمسکو دغونډی دګډونکونکو بیا نیی او وینا وی له مخی څه ناڅه پر

طا لبا نو باندی د بشر دحقونو اودهغه داصولو رعا یت کولو با ندی د پخوا پر تله تا ثیر وغورځول یا په بل عبا رت طا لبا نو هم ومنل چی د بشر حقونه مراعا ت کړی ، ګرچه دا داسلام داصولو اوداهدافو سره یو موقتی او ګذری قبولی دي اودا سی په نظر راځی چی دغه بحث یا موضوع دلزوم په صورت تفسیر کیږي. ښونځی او یا مکتبونه ممکن دی چی دهریودی ډول نوی رژیمونو تررهبری لاندی دیو څه ګواښ سره مخامخ شي؟ دښځو زده کړه اوروزنه دهریو نوی لړلید په رامینځته کیدو سره مخامخ کیږي ( یعنی دمذهبی دلایلو اوروایا تو په نظر کی نیولوسره چی په طبعی بڼی سره دمذهبیونو له خوا ترسره کیږی ) لکه چی ټولو ته ښکاره دي چی دښځو تعلیم او تربیه اوس دستی په هغو سیمو کی چی دطا لبا نو تر ولکی لاندی دی په ټپه درید لی اوښځی له زده کړی څخه محروم دي نو له دی واقیعت څخه دا سی را ښکا ری چي په راتلونکی کی که چیری مذهبیون واک تر لاسه کړی د ښځو تعلیم او روزنه به څرنګه وي ؟؟؟

دمسکو په غونډه کي یو غیر قابل انکار واقیعت را څرګند شو او هغه داچي څوک نشی کولای چی طا لبا ن د یو سیا سیی ځواک په صفت په نظرکی ونه نیسی یا دهغو له موجودیت څخه دیوسیا سیی ځواک په توګه انکاروکړی . هماغسی چی ټولو ته معلوم دی هغه دادی چي طالبان اودهغو واک دامریکی دمتحده ایالاتو دیرغلګرو قوتونو په مټ سره په کال (2001) کی نسکوریوشمیر یی مړ او ټپیا ن شو دهیواد څیره په بمونو سره بد له او تخریب سوطا لبا نو د کا بل دنوی فاسد رژیم څخه فاصله ونیول اوهغوی په بهر کی دپردیو په ما لی او روزنی مرستی سره خپل شتون ته دوام ورکړل اما دسیا سیی مخی له پلوه ناتوان او کمزوری پا تی شو اما خپل مبا رزی ته دوام ورکړل .

د ترامپ اداره کوم چي دیو اړخیز شرارت په معرض کی قرار لری ، غواړی چی دخپل امپراتوری دځنو وعده کړ شوی تعهداتو ته دعمل جامه واغوند یعنی غواړی چي په مینځنی ختیخ کی دخپل جنګی قوتونو شمیر راکمه کړي اودبلی خوا څخه اوس دټولو سترګي دا فغا نستا ن خواته اړول شوی دی اوهغه داچی په راتلونکی کی دلته به څه واقع شی .

**------------------------------------ په سلامونو (10-02-2019)**